
مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۹ د وږي ۲۶مه | د ۲۰۲۰ د سپتمبر ۱٦مه | ۵۹۵یمه ګڼه


## کتاب

۴ مخ

### امریکا، طالبان او جګړه د افغانانو له نظره



دا کتاب د هغو کټګوریو په اړه دی، چې خلکو رامنځ ته کړې او باور پرې لري. دومره قوي باور او عقیده چې ځینې وخت د کلمې واقعي مانا د ژوند او مرګ پر موضوع بدلېږي.

# افغان سوله او سیمه ییزې سیالۍ؛

## د هند او پاکستان کشمکشونو د افغان سولې پر بهیر سیوری غوړولی



۳

### کرنې ریاست: روان کال به په هرات کې د شولې حاصلات ٦۵ زرو ټنو ته ورسېږي



د هرات د کرنې ریاست چارواکي وايي، چې په دغه ولایت کې د شولې حاصلات د تېر کال په پرتله ۲۵ سلنه زیات شوي دي.
د یاد ولایت د کرنې او مالدارۍ ریاست د کرنې چارو امر بشیر احمد احمدي له رسنیو سره په خبرو کې ویلي چې په هرات کې به سږ کال له شولې څخه ٦۵ زره ټنه وریجې تولید شي چې د تېر کال په پرتله ۲۵ سلنه زیاتوالی ښیي.
د هغه په خبره، تېر کال په هرات ولایت کې د وریجو حاصلات ۴۵ زره ټنه وو. احمدي زیاته کړې چې د شولې د کرکېلې ساحې د هرات په انجیل، ګذرې، پشتون زرغون، اوبې، چشت ولسوالیو او لږ یې په ادرسکن او شینډنډ ولسوالیو کې دي.
د هرات د کرنې ریاست چارواکي دغه راز وايي چې دغه زیاتوالی د کرکېلې د ساحې د زیاتېدو او د کرکېلې له نویو لارو چارو څخه د بزګرانو د پوهاوي له کبله رامنځته شوی دی.

### په دوحه کې رسمي خبرې ولې ځنډېږي؟

۲ مخ

### وضعیت اقتصادی جهان پس از وبای کرونا

۲ مخ

### آیا آمریکا دیگر حامی دیموکراسی افغانستان نیست؟

۳ مخ

### پوځي کارپوهان: امریکا په افغانستان کې د ترهګرو ډلو د ماتولو ارمان بېرته له ځانه سره یووړ

پوځي کارپوهان وايي چې امریکا په افغانستان کې خپلو اهدافو ته نه ده رسېدلې. نیویارک پوسټ د امریکا د یو متقاعد جنرال کارل سټیو له قوله ویلي، امریکا له ترهګرۍ سره د مبارزې په موخه افغانستان ته راغلې وه، خو پرته له دې چې خپل اهداف تر لاسه کړي، دا دی اوس له میلیاردونو ډالرو بې ځایه مصرف وروسته خپلې اوږې سپکوي او له افغانستانه د وتلو په حال کې ده.
نوموړي زیاته کړې، د امریکا هدف له صحنې د طالبانو او القاعده ډلې محوه کېدل وو، خو اوس پخپله طالبانو سره مرسته کوي څو یاده ډله صحنې ته راولي. په ورته وخت کې یوه بل افغان کارپوه له سینهوا خبري اژانس سره په مرکه کې ویلي، امریکا تر کلونو بې ځایه جګړو او میلیاردونو ډالرو لګښت وروسته نه یوازې د القاعده ډلې په ماتولو ونه توانېده، بلکې د دوی په حضور کې داعش ډلې هم خپلې ریښې وغځولې.
پر امریکا دا نیوکې په داسې حال کې دي چې یاد هېواد د روان میلادي کال په پیل کې له طالبانو سره هوکړه وکړه چې د القاعده شبکې سره د اړیکو د پرېکولو او د بهرنیو هېوادونو پر وړاندې د افغان خاورې د نه کارېدو په بدل کې به خپل ټول پوځیان له افغانستان څخه وباسي. د راپورونو له مخې، تر دې دمه زرګونه امریکایي او بهرني ځواکونه له افغانستانه وتلي او پاتې نور به یې هم په بشپړه توګه له دغه هېواده ووځي.

### ناټو: د سولې له خبرو سره جوخت د طالبانو له خوا روان تاوتریخوالی د منلو نه دی



۵ مخ

### ادارهٔ بازرس: ۵۲ قضیهٔ فساد مربوط به مصارف کرونا را به څارنوالی سپرده ایم




ادارهٔ بازرس افغانستان می گوید که بشمول یک وزیر و مقامات دیگر، ۵۲ دوسیه مرتبط به فساد در مصارف کرونا به لوی څارنوالی سپرده است. این درحالی است که به اساس یک گزارش پژواک، بتاریخ سوم ماه روان، ادارهٔ یاد شده فیروزالدین فیروز وزیر اسبق صحت عامه و چهار معاون دیگر این وزارت را در رابطه به فساد در مصارف کرونا به لوی څارنوالی معرفی نموده بود.
فیروز بشری سخنگوی ادارهٔ بازرس گفته است که آنها تا کنون ۵۲ تن را در رابطه به فساد در بودجهٔ کرونا به څارنوالی معرفی کرده اند.
وی افزوده است که در این افراد بشمول وزیر پیشین صحت عامه، هشت تن مربوط به کابل و ۴۴ تن دیگر آنها از ولایات بدخشان، نورستان، هرات و میدان وردگ هستند. به گفتهٔ بشری که در میان این افراد روسای مالی و اداری ولایت ها و اعضای نظارت کمیته های تدارکات شامل اند.
موصوف می گوید که آنها متهم به اختلاس، سوء استفاده از صلاحیت های وظیفوی، حیف و میل منابع، خریداری های بدون ضرورت و مدیریت نادرست هستند. سخنگوی ادارهٔ بازرس گفت که در رابطه به این قضایا ۵۵۰ ورق اسناد و مدارک دیگر نیز به لوی څارنوالی سپرده شده است. جمشید رسولی سخنگوی لوی څارنوالی افغانستان نیز تائید می کند که این قضایا از سوی ادارهٔ بازرس به آنها محول شده است.


Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life
دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## دریـــځ

### په دوحه کې رسمي خبرې ولې ځنډېږي؟

په قطر کې د طالبانو او حکومت د تماس ډله لا هم نه ده بریالی شوې چې د بین الافغاني خبرو پر اصولو، کړنلارې او اجنډا توافق وکړي. تمه وه چې ژر به رسمي بین الافغاني خبرې پیل شي، خو ظاهراً د خبرو لپاره په اصولو، کړنلارې او اجنډا کې ستونزې او اختلافات شته. له همدې امله دا خبرې تر اوسه ځنډېدلي او په دې اړه هم څه نه دي ویل شوي چې کله به پر دې چارو توافق وشي. پر اصولو، کړنلارې او اجنډا توافق د خبرو د بریا لپاره مهم دی، خو خلک تمه لري چې دا خبرې ژر پیل شي، ځکه چې په خبرو کې پرمختګ او بیا بشپړه سوله د خلکو غوښتنه ده. اوس چې د خبرو په پیل کې ځومره ځنډ راځي، خلک ناهیلي کېږي.

اساسي ستونزه لا هم پر دې ده چې په خبرو کې د پلاوو مخ ته څه ولیکل شي او دې خبرو ته د بین الافغاني، که د امارت او جمهوریت د خبرو نوم ورکړل شي. پر دې هم اختلاف شته چې خبرې به څه ډول مخ ته ځي. له بله اړخه پر دې ژور اختلاف دی چې څه په اجنډا کې شامل شي او څه نه او آن پر دې هم اختلاف دی چې د بحث لومړنی موضوع به څه وي. حکومتي پلاوی تمایل لري او غواړي چې طالبان اوربند وکړي، خو طالبان د خپلو پاتې بندیانو د خوشې کولو تر څنګ د اوسني حکومت پر برخلیک بحث غواړي. حکومتي پلاوی په سختۍ دې ته حاضرېږي چې د راتلونکي نظام پر څرنګوالي خبرې وکړي او د اوسني حکومت پر برخلیک خو هېڅ ډول خبرو ته نه حاضرېږي. طالبان وېره لري چې که اوربند وکړي او بیا په خبرو کې پرمختګ ونه شي او د دوی غوښتنې ونه منل شي، نو دوی به تاوان وکړي. حکومتي چارواکي هم فکر کوي چې که پر طالبانو اوربند ومني، نو هغوی له پښو غورځولی شي. طالبان وایي چې که د اوسني حکومت په اړه بحث وشي او په اړه یې پرېکړه وشي، نو وروسته به د دوی مقابل لوری حکومتي نه وي او بیا کولی شي چې خپلو ډېرو غوښتنو ته ورسیږي. له همدې امله پر دې تمرکز کوي چې که د اوسني حکومت واګې له اوسنیو چارواکو واخلي، یا یې درېیم اړخ ته وسپاري او یا یې په ګډه رهبري کړي.

له بده مرغه له دواړو اړخونو سره د سولې پر ځای تر ډېره د یو بل د ماتولو او د خپلې بریا فکر دی. دوی ته تر سولې دا مهمه ده چې غوښتنې یې ومنل شي او مقابل لوری په خبرو کې مات کړي. له همدې امله لا هم پر لومړنیو مسایلو چې د خبرو اصول، کړنلاره او اجنډا دي، توافق ته نه دي رسېدلي.

دواړو اړخونو ته پکار ده چې پر خپل دریځ یو ځل بیا له سره غور وکړي. دوی باید یو د بل د ماتولو پر ځای پر سوله فکر وکړي. له همدې امله باید هغه مسایل په اجنډا کې راولي چې د سولې سبب شي، نه د کوم لوري د ماتې. دوی باید پوه شي چې که د سولې دا خبرې ماتېږي، مخامخ مسوول به یې دوی وي او بیا به د جګړې د دوام له امله د ټولې وینو تویېدنې شریکان وي. له همدې امله دوی باید پر افغان ځورېدلي ولس رحم وکړي او دا خبرې بریالۍ کړي.

# وضعیت اقتصادی جهان پس از وبای کرونا

مرکز مطالعات استراتیژیک ومنطقوی

**قسمت اول:**

جهان در حال حاضر با یک بحران بزرگ تعطیلی مواجه است که همه ای کسب و کارهای که حضوری صورت می گرفت را به حالت تعلیق درآورده است. این بحران موجب تشدید بیکاری، فقر، گرسنگی، بدهی دولتها، کاهش ارزی بانکی، کاهش مراودات تجارتی میان کشورها، کاهش تولیدات ناخالص داخلی کشورها و بلاخره باعث کاهش رشد اقتصادی در سطح جهان شده است.

این مسئله بر میگردد به پدیده جهانی شدن که تمام عناصری که برای ادامه حیات نیاز است، را با هم مرتبط می سازد. حال با مواجه شدن با این ویروس پدیده جهانی شدن خود به یک معضل تبدیل شده، زیرا جهانی شدن روند انتقال ویروس را تسریع بخشیده است. در جهانی شدن، از اهمیت مرزها کاسته شده بود، به همین مناسبت در قرن ۲۰ مسئله اقتصاد جهانی و تجارت آزاد به وجود آمد. ولی با وضعیت پیش آمده مرزها دوباره جایگاه خود را پیدا نمودند و همکاری های بین المللی که میان کشورها وجود داشت را زیر سؤال برد. به هر صورت، نه تنها اقتصاد، بلکه سایر عناصر چون سیاست، روابط اجتماعی و محیط زیست به سبب پدیده جهانی شدن مانند تارهای عنکبوت در هم تنیده شده اند. طوریکه با چنین بحران های، همه از همدیگر تاثیر می پذیرند.

کرونا چنان ضربه مهلکی به اقتصاد جهانی وارد نموده که ما امروز شاهد شاخص های بازار جهانی به درجه ای از رکود هستیم که نمونه‌ی آن را فقط در بحران های تاریخ، مانند «رکود بزرگ» سال ۱۹۲۹ م و بحران سال ۲۰۰۸ م می توان دید. بسیاری از اقتصاددانان معتقدند که آن چه اکنون در حال وقوع است خیلی بزرگتر از بحران های اقتصادی گذشته است. ناشناخته ماندن رفتار ویروس، چشم اندازهایی اقتصادی را در هاله ای از ابهام قرار داده است. به همین منظور سازمان های بین المللی، نهادهای دولتی و اقتصاددانان هر یک فرضیه ها و سناریوهای متفاوتی را از جهان پسا کرونا بیان نموده اند.

کاهش در تقسیم کار بین المللی: در عصر جهانی شدن، کشورها برای سهولت بیشتر و همکاری های بین المللی، کار را میان خود تقسیم نمودند. تقسیم کار بین المللی به مزیت نسبی و تخصص در اجزاء یک کالا منجر شد. که امروزه همین مسئله با شیوع ویروس کرونا به چالش مواجه گردیده است. زیرا، کشورها با در پیش گرفتن سیاست قرنطین در بخش سیاست داخلی، باعث بستن مرزهای هوایی، زمینی و دریایی شدند. که این بر تولید زنجیره ای جهانی و مدل سیستم تولید به موقع (JIT)[۲] را مختل نموده است.

پس با نمایان شدن این ضعف در سیستم های تولیدی و سرمایه داری جهانی، به احتمال زیاد، دیگر این نوع مدل سیستم و تولید پراکنده جهانی به کنار گذاشته میشود. پیامد این مرحله ای جدید و البته تلخ و ناگوار از سرمایه داری جهانی می باشد به نحوی که زنجیره های تامین به خانه ها نزدیک شده و خود را از کالاهای غیر ضروری مشبوع می سازند. تا با چنین وقایع نا به هنگام خود را سازگار دهند. این میتواند در سود و منافع کوتاه مدت شرکتها خللی وارد کند، اما در دراز مدت سبب افزایش سطح پایداری سیستم می شود.

افزایش خودکفایی دولت ها: چنان که در فوق بیان نمودیم؛ که پدیده شیوع کرونا موجب خلل در سیستم تقسیم کار بین المللی شده است، همین امر؛ موجب رجوع دولت ها و معطوف ساختن توجه شان به داخل کشورهای شان می سازد. به عبارت دیگر؛ ملی گرایی اقتصادی به طور فزاینده ای دولت ها را به سمت بستن اقتصاد خود از سایر کشورهای جهان سوق خواهد داد. کوشش می شود تا دولت ها در همه عرصه ها به خودکفایی برسند، اما هرگز به معنی خودکفایی کامل و یا چیزی نزدیک به آن ایجاد نخواهد کرد. البته دولت های که توانایی آنرا داشته باشند که این چنین دولت ها، محدود است، و چنین کاری پرهزینه هم است حتی برای دولت های ثروتمند. دولت های که قادر به خود کفایی نیستند باز هم وابسته گی آنها دو چندان نسبت به گذشته می شود.

نمایان شدن ضعف دولت ها: دولت ها در جهان پساکرونا با پیدایش نیاز شدید برای تخصیص منابع جهت بازسازی داخلی و پیامدهای ناشی از این بحران دست و پنجه نرم می کنند. این بحران، ممکن بعد از چند سالی ضعف های دولت ها را نمایان سازد و انتظار میرود در آینده شاهد دولتهای ضعیف و درمانده زیادی روبرو می شویم، حتی موجب از هم پاشی عده دولتها نیز می شود که این خود طبیعت و قانون جهانی است، فرآیند همگرایی اروپایی رو به ضعف می نهد، و در اخیر جنگ تجاری چین و آمریکا را تسریع می بخشد.

کاهش در شرکت های زنجیره ای در سطح کشورها: در عصر جهانی شدن، به سبب گستردگی روابط، تخصص در کالای واحد، باز شدن مرزها بر روی تجارت بین المللی و از میان برداشتن موانع تجارتی موجب شگوفایی اقتصاد و تجارت بین المللی گردیده بوده. از همین رو در نیمه دوم سده بیست، ما شاهد افزایش شرکتهای زنجیره ای (فراملی) بوده ایم، این شرکتها به اندازه ای تاثیرگذاشته بود که حتی در نظریه های لیبرالی روابط بین الملل جزء بازیگران بین المللی پنداشته می شود. این شرکتها اگرچه محدود هستند، اما دامنه فعالیت ها و نمایندگی های شان که در سراسر جهان تاسیس نمودند، به بیش از ۱۰۰ کشور جهان می رسد. وضعیت کنونی طوری است که این شرکتها به سبب توقف پروازها، بستن مرزها، تمرکز و استفاده از محصولات داخلی، کاهش در تعداد کارگران، تولیدات، کاهش توجهات به محصولات غیر ضروری ... نمایندگی های خود را کاهش دهند که این خود در تولید تامین جهانی تاثیرات بسزایی می تواند داشته باشد، و در عین زمان از فشار بر تخصیص منابع نیز کاسته می شود.

کاهش تولیدات و سرمایه گذاری جهانی: جهان پسا کرونا، جهانی با کاهش فعالیت های اقتصادی در کوتاه مدت و در دراز مدت کاهش چشمگیر ظرفیت تولید اقتصاد جهانی می باشد. چنانکه می دانیم، برای رفع احتیاجات و خواسته های انسانی نیاز به توزیع مؤثر عوامل تولید کمیاب داریم. که سرمایه جزء از عوامل تولید معدود و کمیاب است. ولی با ترکیب سایر عوامل تولید که عبارت از زمین، نیروی کار و توانائی تشبیثاتی است، امتعه (کالا یا خدمات) را تولید می نماید. سرمایه پس از صنعتی شدن جهان، نقش بیشتری در اقتصاد جهان بازی نمود و پس از آن در عصر جهانی شدن. ولی با پدید آمدن بیماری همه گیر کرونا، و به تعلیق درآمدن فعالیت های اقتصادی، سرمایه نقش تعین کننده گذشته خود را از دست داد. و اگر این وضعیت ادامه یابد، ممکن دولت‌ها و شرکت‌ها دیگر مایل نباشند سرمایه های خود را در سایر کشورها بکار اندازند. پس به این نتیجه می رسیم که جهان پسا کرونا، جهان با کاهش تعین کننده سرمایه و تولید جهانی مواجه خواهد شد.

کاهش تجارت آزاد بین المللی: چنان که قبلا بیان گردید، کم رنگ شدن مرزهای کشورها باعث تجارت آزاد بین المللی شد که با ایجاد سازمان تجارت جهانی و پایه گذاری اصول آن میان کشورهای جهان تجارت آزاد بدون مشکل جدی راه آن هموار گردیده بود و البته بعدا جنگ های تجاری کم و بیش که در همین سال های اخیر میان آمریکا و سایر کشورها به وجود آمد، خللی بر تجارت آزاد بین المللی وارد نمود که با این همه گیری ضربه سنگینی نیز بر پیکره‌ی تجارت آزاد وارد نموده است. و به احتمال زیاد، تجارت آزاد به گونه ای که در گذشته میان کشورها وجود داشت دیگر به آن روند باز نگردد و کشورها بیشتر به اقتصادهای داخلی خود معطوف می شوند.

چنان که مشاهده می نماییم، در این شرایط، سیاست های را که دولت ها برای جلوگیری از شیوع کرونا در نظر گرفته اند از جمله: رعایت فاصله اجتماعی، ماسک و شستن دستها، رعایت نکات بهداشتی و ماندن در خانه بهتر است تا حضور یافتن به محل کار چون هم روح و روان کارمندان راحت می باشد و هم از شیوع ویروس جلوگیری صورت می گیرد و همزمان باعث عدم استفاده از وسایل نقلیه شخصی، جلوگیری از ترددهای بی جا و همچنین آلودگی محیط زیستی را کاهش می بخشد.

در رابطه به اقتصاد جهانی یک سلسله وضعیت های ناخوشایندی در جهان قبل از کرونا وجود داشت که با شیوع بیماری همه گیر کرونا تشدید خواهد شد. نخست؛ رکود سکولار: شرایطی که رکود سکولار به اقتصاد کشورهای جهان ایجاد میکند باعث کاهش ریسک پذیری، صرفه جویی بیشتر و در نتیجه کاهش تقاضا و نوآوری می شود. دومی، شکاف بین کشورهای ثروتمند و سایر نقاط جهان در زمینه مقاومت در برابر بحران ها بیشتر خواهد شد. سومی، جهان بعضاً در نتیجه حرکت به سمت ایمنی و خطر پذیری آشکار اقتصادهای در حال توسعه، همچنان برای تامین مالی و تجارت، به دالر امریکا متکی خواهد ماند و این درحالی است که ایالات متحده با وجود اینکه جذابیت خود را نسبتاً برای سرمایه گذاری از دست می دهد؛ ولی به نسبت سایر کشورها جذابیت خود را حفظ می کند.

بسیاری از مشاغل از دست رفته دوباره بر نمی گردند: همه گیری ویروس کرونا سبب شد تا انقلاب صنعتی دیگری در قرن بیست و یک به وقوع بپیوندد، و بار دیگر در کاربرد نیروی انسانی در عرصه اشتغال زایی، جابجایی ایجاد نماید. این انقلاب، به ایجاد فرصتی دست نیافتنی در بهره برداری از هوش مصنوعی و تکنالوژی روز دنیا منجر خواهد شد. انقلابی که بار دیگر زمینه ساز بیکاری نیروهای کاری می شود.

در دوره پسا کرونا به گمان اغلب در بسیاری از کشورهای صنعتی جهان از تکنالوژی و ربات ها در کارخانجات و شرکتها استفاده به عمل می آید که هم به آسیبهای وارده به بدن انسان ها کمتر و سرعت عمل و دقت بیشتر شود. از سویی دیگر؛ تجربه بحران مالی سال ۲۰۰۸ م این را برای ما بازگو می کند که بسیاری از بخش های مدیریتی حذف خواهند شد چون از تعداد کارمندان به سبب بحران کاسته می شود و نحوه مدیریت و ساختار شرکت را منسجم‌تر و هزینه را کمتر خواهد ساخت.

همه گیری کرونا و متعاقب آن بازیابی روند دیجیتالی سازی و استفاده از دستگاه های خودکار در حین اجرای وظیفه، کار را تسریع می کند که ضمن افزایش مشاغل دارای مهارت بالا، در دو دهه گذشته مشاغل با مهارت متوسط را از بین خواهد برد و به رکود دستمزد متوسط و افزایش نابرابری درآمد کمک خواهد کرد. تقاضاها به صورت خدمات ظهور خواهند کرد که میتوانند با استفاده از دیجیتالی شدن سیستم ها دیگر نیاز به نیروی کار بیشتر نباشد. دولت با مداخله دیجیتالیزم در نحوه سازماندهی و ارائه خدماتی چون: آموزش، سفر، مراقبت های بهداشتی، تغییراتی ایجاد خواهد کرد.

احتمالاً شرکتهای کوچک که خدمات فردی را ارائه می کنند و نیاز به مهارت بالا ندارند، از بین خواهد رفت. برعلاوه خدمات اساسی ما شاهد فرصت های جدید شغلی خواهیم بود و افزایش فشار برای افزایش دستمزد و بهبود مزایا خواهند بود. برای ارائه مهارت های مورد نیاز در مشاغل جدید، برنامه های آموزشی کم هزینه که به صورت دیجیتالی تحویل داده می شوند، الزامی خواهند بود. وابستگی ناگهانی شمار بالایی از مردم به توانایی کار از راه دور نیاز به گسترش قابل توجه و فراگیر «وای-فای»، وسایر زیر ساخت های برای دیجیتالی شدن فعالیت های اقتصادی را یادآور می شود.

**دوام دارد...**

# آیا آمریکا دیگر حامی دیموکراسی افغانستان نیست؟

بی بی سی - فارسی

۱۹ سال پیش در چنین روزهایی سران ایالات متحده با قاطعیت، گردن‌فرازی و افتخار از برنامه خود برای توسعه دیموکراسی در خاورمیانه سخن می گفتند و افغانستان را یک نظام دیموکراتیک نمونه در میانه کشورهای عمدتا مستبد و خودکامه، قلمداد می کردند.
ادعای بی‌ربطی هم نبود؛ زیرا همسایگان افغانستان، اغلب فاقد یک مردم‌سالاری بالغ و توسعه‌یافته هستند. در اکثر کشورهای پیرامون افغانستان، انتخابات تنها محملی برای تحمیل اراده اقلیت حاکم بر اکثریت محکوم و مشروعیت‌بخشیدن به حاکمیت‌های خودبنیاد و اقتدارگرا است.
حضور آمریکا در افغانستان با این شعار شروع شد و در آن زمان، امیدهای گسترده‌ای را نه تنها در میان مردم افغانستان، بلکه حتی در کشورهای استبدادزده منطقه برانگیخت؛ زیرا نسیم آزادی و مردم‌سالاری، مشام بسیاری را عطرآگین کرده بود و طبیعی بود که در سرزمین‌های سنتی سیطره دیرپای رژیم‌های استبدادی و سرکوبگر، ایجاد یک دولت دیموکراتیک، تدوین یک قانون اساسی مترقی و احیای ارزش‌های حقوق بشری مبتنی بر شاخص‌های طلایی دنیای مدرن و ملل متمدن، دیموکراسی‌خواهان سراسر منطقه را امیدوار به تغییر می کرد.
دولت‌سازی در افغانستان در سال‌های اولیه، ظاهراً طبق برنامه پیش رفت و شور مشارکت و شوق همکاری برای ساختن یک نظم دیموکراتیک جدید در میان همه مردم افغانستان، مشهود بود. در ادامه راه اما عملکرد بد حاکمان داخلی، گسترش بی‌رویه فساد و قانون‌شکنی، و جناح‌بندی‌های قومی، امیدهای اولیه را تضعیف کرد. این امر، با کاهش اراده و عزم کشورهای حامی دیموکراسی و در رأس همه آن‌ها ایالات متحده امریکا همزمان شد.
با وجود تاکید مکرر غرب بر حفظ دستاوردها و دفاع از ارزش‌های مدرن مانند حقوق بشر، حقوق زنان، آزادی‌های اساسی و مدنی و... به نظر می‌رسد که اولویت‌های راهبردی غرب در افغانستان به گونه ملموسی تغییر کرده، و امنیت، مبارزه با تروریزم و استقرار ثبات به مرور جایگزین دیموکراسی و مردم‌سالاری، دولت- ملت‌سازی و استقرار یک نظام دمیوکراتیک قابل تعمیم به دیگر ملت‌های دچار سرکوب و استبداد شده‌است. به این ترتیب، مأموریت غرب از توسعه هدفمند دیموکراسی و حمایت پایدار از مردم‌سالاری و ارزش‌های ضمنی آن، به حمایت از برگزاری انتخابات، صرف نظر از سلامت، شفافیت و مشروعیت آن، محدود شد.
این امر تا آن‌جا ادامه پیدا کرد که حتی تنش‌های نامزدان پیشتاز در سه انتخابات ریاست جمهوری و دو انتخابات پارلمانی سال‌های اخیر که آشکارا مشروعیت این روندها را مخدوش می‌کرد، تغییری قابل انتظار در موضع غرب ایجاد نکرد و به این ترتیب، این حقیقت به طور کامل احراز شد که دیموکراسی و ملت- دولت‌سازی از فهرست اولویت‌های مأموریت غرب و ایالات متحده در افغانستان، خارج شده‌است.
در ادامه راه اما با روی کارآمدن دولت جمهوری‌خواه به رهبری دونالد ترامپ در واشنگتن، این تغییر موضع که البته از سال‌ها قبل شروع شده‌بود، شتاب بیش‌تری پیدا کرد و مواضع واشنگتن درباره آینده سیاسی افغانستان، صریحاً پرونده دیموکراسی را مسکوت گذاشت و بر «صلح با طالبان»، خروج نیروهای بین‌المللی از افغانستان و صرفه‌جویی در هزینه‌های میلیاردی ایالات متحده در جنگی که به نظر ترامپ «بیهوده» می‌رسد، تأکید نهاد.
امضای توافق‌نامه صلح میان آمریکا و طالبان در دوحه، نگرانی‌ها درباره چشم‌انداز نظام جمهوری در افغانستان را دوچندان کرد و هراس شدید فعالان زن، رسانه‌ها و جامعه مدنی درباره دورنمای این آزادی‌ها و ارزش‌های مدرن را تشدید بخشید. بر بنیاد همین نگرانی‌هاست که صاحب‌نظران اکنون بی‌محابا دست به مقایسه دولت به رهبری اشرف‌غنی با دولت کمونیستی نجیب‌الله، پس از قطع حمایت‌های مسکو و پیش از سقوط آن به دست مجاهدین می‌زنند.
این مقایسه به رغم تفاوت‌های اساسی و بنیادینی که میان دو دوره مورد نظر وجود دارد، دست‌کم یک مبنای قابل توجیه دارد و آن، بی‌میلی مشابه مسکو و واشنگتن به ادامه حمایت از نظام‌هایی است که خودشان ایجاد کرده‌بودند.
بر بنیاد همین بی‌میلی، واشنگتن حتی سال گذشته، تلاش فراوانی به خرج داد تا انتخابات ریاست جمهوری افغانستان، برگزار نشود و به برنامه آمریکا برای رسیدن به صلح، اولویت داده‌شود؛ تلاشی که در نهایت، ناکام ماند و کابل یک انتخابات بحث‌برانگیز را برگزار کرد که برای نخستین‌بار در ۱۹ سال گذشته، به وضوح فاقد حمایت حداکثری حامیان غربی دولت افغانستان بود.
در ادامه همین رویکرد، مایک پومپیو؛ وزیر امور خارجه آمریکا روز شنبه در افتتاحیه مذاکرات صلح افغانستان در دوحه قطر گفت: «انتخاب سیستم سیاسی آینده شما، انتخاب شماست.»
او افزود که آمریکا دریافته که دیموکراسی، به ویژه اصل انتقال مسالمت‌آمیز قدرت سیاسی، بهترین روش است. این مدل، «صلح و سعادت بزرگی را برای ما و سایر ملت‌های دیموکراتیک به بار آورده‌است.»
با این حال، تصریح کرد که فقط یک راه حل برای تمام مشکلات وجود ندارد و آمریکا به دنبال تحمیل سیستم خود بر دیگران نیست. «ما قویا باور داریم که حفاظت از حقوق همه افغان‌ها، بهترین راه برای شکستن دوران خشونت است».
شماری از نمایندگان طالبان سخنان وزیر خارجه آمریکا را «حرف قابل تقدیر» دانستند.
حتی اگر نمایندگان طالبان نیز از سخنان آقای پومپیو استقبال نمی کردند، واضح بود که او با این پیام به قطر رفته که آمریکا دیگر از دیموکراسی در افغانستان، حمایت نمی کند؛ پیامی عمیقاً ناامیدکننده برای کسانی که تصور می‌کردند غرب همچنان حامی جمهوریت، نظام دیموکراتیک و ارزش‌های جانبی آن است.
به این ترتیب، موضع نمایندگان کابل در مذاکره با طالبان، تضعیف شده و برای طالبان زیر سؤال‌بردن اصل نظام، آسان‌تر شده‌است.
با این حساب، باید منتظر ماند و دید که آیا کابل همان‌گونه که در عرصه مبارزه میدانی و جنگ سخت با طالبان، پس از توافق آن گروه با آمریکا تنها ماند، آیا می‌تواند به تنهایی در عرصه مذاکره درباره آینده سیاسی و جنگ نرم با آن گروه نیز بر مواضع خود پایدار بماند یا در نهایت، به نفع طالبان عقب می‌نشیند و با آن گروه بر ایجاد یک «نظام اسلامی» مبتنی بر خوانش طالبانی، توافق می کند.

# افغان سوله او سیمه ییزې سیالی؛

## د هند او پاکستان کشمکشونو د افغان سولې پر بهیر سیوری غوړولی



سره له دې چې د سیمې ټولو هېوادونو له افغان سولې سره د مرستې او همکارۍ ژمنه کړې ده، خو بیا هم نړیوال تحلیلونه او د چارواکو څرگندونې دا په ډاگه کوي چې په سیمه کې یو شمېر هېوادونه د سولې له روان بهیر وېره لري. په دې ډله کې یو هم هند دی چې فکر کوي، پاکستان په افغانستان کې د نفوذ د پراختیا په هڅه کې دی او غواړي افغان خاوره د نوي ډیلي پر ضد وکاروي. تازه زلمي خلیلزاد پاکستان او هند ته سفرونه پیل کړي، څو دواړه هېوادونه قانع کړي چې له سولې سره مرسته وکړي، خو بیا هم د دواړو هېوادونو کشمکش پر افغان سولې سیوری غوړولی دی.
د شنبې په ورځ په دوحه کې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ مخامخ مذاکرات پیل شول. هلته د گڼو هېوادونو استازو خپلې خبرې وکړې، هند هم په دې ډله کې هغه هېواد و چې د افغانستان د ستونزې اصلي جرړه یې په پاکستان کې وبلله. د هند د بهرنیو چارو وزیر دغه غونډې ته په انلاین توگه د خبرو پر مهال وویل چې نړیوال باید د افغانستان د امنیت او سولې لپاره له دغه هېواده بهر د ترهگرو فعال مرکزونه له منځه یوسي او پر هغو هېوادونو فشار ډېر کړي چې د ترهگرو ملاتړي دي. د هند موخه مستقیم پاکستان و، چې گواکې د ترهگرو ملاتړ کوي او هڅه کوي سیمه نا امنه کړي. بلخوا د چارو شنونکي پر دې باور دي چې هند په افغانستان کې د پاکستان د نفوذ له پراختیا وېره لري. د دوی په باور، هند پوهېږي چې پاکستان له طالبانو سره پیاوړې اړیکې لري او که د سولې بهیر بریالی کېږي، نو نه یوازې دا چې د هند په گټه نه دی، بلکې د دې امکان شته چې افغان خاوره د نوي ډیلي پر ضد وکارول شي. د نړیوالو اړیکو کارپوه عمر شریفي وایي، پاکستان په افغانستان کې د نفوذ د پراختیا په لټه کې دی او دا هغه څه دي چې هند ترې اندېښنه لري.
د شریفي په خبره، زلمي خلیلزاد د هند د وېرې لرې کولو لپاره هڅې پیل کړې دي. د ده په خبره، خلیلزاد غواړي هند قانع کړي چې امریکا په افغانستان کې د سولې غوښتونکې ده او دغه بهیر د امریکا په ولسمشریزو ټاکنو پورې هېڅ تړاو نه لري، بلکې په نورماله توگه به مخ ته ځي. د ده په وینا: ((د زلمي خلیلزاد سفر تر ډېره د دوحې د خبرو د جریان د همغږي لپاره دی، نوموړی هڅه کوي، هندوان باورمن او اندېښنې یې لیرې کړي او ورته ووایي چې د سولې بهیر داسې نه دی چې د امریکا له انتخاباتو وروسته به ورکې بدلون راشي، موږ دلته په افغانستان کې د پاکستان د پراختیا غوښتنې او په دې اړه د هند له اندېښنو سره مخ یو)).
له دې اندېښنو سره هممهاله د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانگړې استازي زلمي خلیلزاد پاکستان ته سفر کړی دی او ټاکل شوې ده چې نوموړی به په هند کې هم له هندي چارواکو سره د دوی پر اندېښنو خبرې وکړي. په پاکستان کې یې له پاکستاني چارواکو غوښتي وو چې د افغانستان د سولې له بهیر سره دې خپلو مرستو ته ادامه ورکړي. د پاکستان د پوځ مشر هم ویلي وو چې دوی په افغانستان کې د سولې د روان بهیر ملاتړي دي او په دې برخه کې به خپلو همکاریو ته ادامه ورکوي.
بلخوا پاکستاني رسنۍ بیا وایي، امریکا د افغانستان د سولې په بهیر کې له هند د مرستې خورا ډېره تمه لرله، خو اوس ترې ناهیلې ده. پاکستانۍ ډان ورځپاڼه وایي: ((د افغان سولې لپاره د امریکا خاص استازی زلمی خلیلزاد له اسلام آباد څخه نوي ډیلي ته ځي تر څو د افغان سولې لپاره د هند ملاتړ پیاوړی کړي)).
د سرچینې په خبره، د افغان سولې په برخه کې تر دې دمه هندوستان هغسې مرسته نه ده کړې لکه څنگه یې چې امریکا تمه لري. له دې کشمکشونو سره هممهاله دا اندېښنه نوره هم ډېرېږي چې ښایي د سیمې د هېوادونو کشمکشونه پر افغان سوله خپل سیوری وغوړوي او د خنډونو سبب شي.

# د امریکا او ایران تازه کړکیچ؛

## ټرمپ: د ایرن هر ډول برید او پارونکي اقدام ته به سخت ځواب ورکړل شي

د امریکا د متحده ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ خبرداری ورکړی چې د ایران هر برید ته به سخت ځواب ورکړل شي.
ټرمپ دا خبرداری له هغو راپورونو وروسته ورکړی چې پکې ویل شوي چې ایران په پام کې لري یوه أمریکایي دیپلوماته د ایراني جنرال قاسم سلیماني د وژنې په غچ کې ووژني. ولسمشر ټرمپ په یوه ټویټ کې ویلي: «د امریکا پر وړاندې د ایران هره حمله به، که په هره بڼه وي، زر برابره سخته ځواب شي.»
د یادونې ده چې د ایران د سپاه پاسداران د قدس ځواک قوماندان قاسم سلیماني د روان کال په جنورۍ میاشت کې د عراق پلازمېنې بغداد ته څېرمه د امریکا د یوې بې‌پیلوټه الوتکې په برید کې ووژل شو. ډونالډ ټرمپ لیکلي: «داسې راپورونه شته چې ایران ښایي د تروریست رهبر سلیماني د وژنې په تړاو کومه وژنه یا حمله پلان کړي.»
دا په داسې حال کې ده چې ځینو امریکایي چارواکو رسنیو ته ویلي چې ایران په جنوبي افریقا کې د امریکا د سفیرې لانا مارکس د وژنې پلان لري. د ولسمشر ټرمپ د تازه څرگندونو په اړه ایران تر اوسه څه نه دي ویلي. په ورته وخت کې د سوېلي افریقا حکومت هم د دغو راپورونو تر خپرېدو وروسته ویلي چې په دې تړاو څېړنې کوي.
ټرمپ ویلي چې د رسنیو د رپوټونو له مخې ایران ممکن د یوې هدفي وژنې یا پر امریکا د گوزار پلانول غواړي، چې د ترهگر قوماندان قاسم سلیماني غچ واخلي، هغه هم د داسې سړي چې د امریکایي پوځیانو د وژلو لپاره یې راتلونکي پلانونه جوړول او هم یې کلونه کلونه مرگ او رنځ پیدا کړی و. د ټرمپ په خبره، د متحده ایالتونو پرضد هر ډول برید به د ایران پرضد له زر برابره برید سره مخ شي.
دا په داسې حال کې ده چې تر وړاندې د ایران د بهرنیو چارو وزارت ویاند سعید خطیب زاده ویلي وو چې د قاسم سلیمان د وژنې دوسیې حقوقي تعقیب روان دی. د نوموړي په وینا: «د ایران اسلامي جمهوریت لکه څنگه چې بیا بیا ویلي، د سردار سلیماني د مجرمانه او بزدلانه وژنې په تړاو په ټولو کچو نړیوال حقوقي تعقیب روان دی.» د هغه په خبره، دا ترهگریز گام نه بښل کېږي او نه هېرېږي.
د ایران د سپاه پاسدران د بهرنۍ څانگې یا قدس ځواکونو مشر قاسم سلیماني د روان کال د جنورۍ په درېیمه په داسې مهال چې د عراق د حشد شعبي دوه مهم قوماندانان هم ورسره وو، له بغداد هوایي ډگر څخه د وتلو پرمهال د امریکا د بې پیلوټه الوتکې په برید کې ووژل شول.




## د کتــاب خبــرې

# افغانستان او سیمه‌ییزه همکاري فرصتونه او ستونزې

© لیکوال : څېړندوی محمد سرور احمدزی

### لومړی فصل
### دڅېړنې کلیات



**۸ـ د یودهلیز یو سړک نوښت One Belt One Road Initiative :**

د یو دهلیز یو سړک نوښت د چین یوه ستره او مهمه پروژه ده چې په وسیله به یې د چین او یو شمیر اسیایي، افریقایي او اروپایي هېوادونو ترمنځ په مختلفو برخو کې همکاري پراختیا پیدا کړي .د یو سړک او یو دهلیز په نوښت کې د ډېرو اقتصادي دهلېزونو او لویو لارو جوړېدل شامل دي .د ۲۰۱٦ زکال په مې کې چین ته د افغانستان د اجراییه رییس ډاکتر عبدالله عبدالله د سفر پر مهال د افغانستان او چین د بهرنیو چارو وزیرانو د همکاریو یو تفاهم لیک لاسلیک کړ، چې د یاد تفاهم لیک له مخې به د یودهلیز یو سړک نوښت په چوکاټ کې د افغانستان او چین ترمنځ په بېلابېلو برخو کې اړیکې او همکاري پراختیا پیدا کوي. افغانستان چې د مرکزي، جنوبي او جنوب ختیځې اسیا په څلور لارې کې موقعیت لري د چین لپاره یو ښه شریک گڼل کېږي او د یودهلیز یو سړک نوښت په وسیله به له ټولې سیمې سره و نښلول شي .د ۲۰۱٦ زکال په اگست کې د لومړي ځل لپاره یو چینایي ریل د قزاقستان او ازبکستان له لارې د افغانستان حیرتان بندر ته راورسېد، په یاد ریل کې د ۴ میلیونو ډالرو په ارزښت سوداگریز توکي ځای پرځای شوي وو او د ۷۳۰۰ کیلو متره لارې اوله ۱۴ ورځو مزل څخه وروسته حیرتان بندر ته رارسېدلی و.

**۹- د اسیا د زېربنایي پانگونې بانک**

د اسیا د زېربنایي پانگونې بانک یو مهم سیمه‌ییز بانک دی، چې د چین له لوري جوړ شوی او له هغو هېوادونو سره چې یوې لارې او یو دهلیز ته څېرمه موقعیت لري مرستې او همکاري کوي. افغانستان هم د اسیا د زېربنایي پانگونې بانک دایمي غړیتوب لري، د اسیا د زېربنایي پانگونې په بانک کې غړیتوب د افغانستان او چین لپاره د دې زمینه برابروي چې د یو سړک یو دهلیز نوښت او ریکا په چوکاټ کې د زېربناوو د پراختیا په برخه کې همکاریو ته پراختیا ورکړي .

**۱۰ـ د لاجوردو لویه لار**

د لاجوردو لار یوه مهمه سوداگریزه، ترانزیټي او ترانسپورټي لار ده چې په وسیله به یې د سیمې د هېوادونو ترمنځ اقتصادي همکاري پراختیا پیدا کړي او د دې لارې په وسیله به افغانستان له ترکمنستان، اذربایجان، گرجستان، ترکیې او اروپا سره وصل شي .د دې لارې د جوړېدو تړون د ۲۰۱۷ کال د نومبر په ۱۵مه د افغانستان، ترکمنستان، گرجستان، اذربایجان او ترکیې د بهرنیو چارو وزیرانو په عشق اباد کې لاسلیک کړ. د لارجوردو لارې نوم د افغانستان له لارجوردو څخه چې ۲۰۰۰ کلونه پخوا له همدې لارې اروپا، روسیې، بالکان او افریقا ته لېږدیدل اخیستل شوی دی. د لاجوردو لارې په جوړېدو به ۲ میلیارده ډالر لگښت راځي.


د افغانستان ولسمشر محمد اشرف غني د۲۰۱۸ زکال د ډسمبر پر ۱۳ مه نېټه په هرات کې د لاجوردو لار پرانیستله، چې له مخې یې افغانستان په ارزانه توگه خپل توکي تر منځني ختیځ، اروپا او افریقا رسولای شي د ولسمشر غني له لوري د لاجوردو لارې له پرانیستل کېدو وروسته نهه لارۍ په ازمایښتي ډول له افغانستان څخه د اروپا پر لور له همدې لارې رواني شوې. د لاجوردو لار د افغانستان د هرات له تور غونډۍ او د فاریاب له اقینې بندرونو پیلېږي او د ترکمنستان د ترکمن باشي بندر ته رسېږي دغه لار له ترکمنستان، اذربایجان او گرجستان څخه تر تورې بحیرې او له ترکیې څخه په تېریدو افغانستان له ازادو اوبو سره نښلوي. ویل کېږي افغان سوداگر د کراچۍ په پرتله په کم وخت او کم لگښت سره خپل توکي له دې لارې لېږدولی شي، د کراچۍ د بندر په پرتله، له دې لارې اروپا ته د صادراتي توکو د لېږدولو چاره به درې یا څلور ورځې کم وخت ونیسي او په دې توگه به د افغانستان د صادراتو لپاره نوي بازارونه پرانیستل شي او په کم قیمت به د باکیفته توکو واردولو لپاره فرصتونه برابر شي.

**۱۱ـ چابهار بندر**

چابهار بندر یو مهم او ستر سیمه‌ییز بندر دی، هند غواړي د دې بندر له لارې له افغانستان، ایران، روسیې او د مرکزي اسیا له هېوادونو سره سوداگریزو اړیکو ته پراختیا ورکړي . هند او ایران په چابهار کې د پام وړ پانگونه کړې ده . هند د زرنج – د لارام لویه لار چې افغانستان له چابهار بندر سره نښلوي، جوړه کړې ده. دغه هېواد به د چابهار بندر له لارې افغانستان او مرکزي اسیا او افغانستان به د یاد بندر له لارې عرب سمندرگي ته لار پیدا کوي. د ۲۰۱٦ زکال په مې کې د نړیوالې سوداگرۍ او ترانزیټ تړون چې د چابهار تړون په نوم یادېږي د افغانستان، هند او ایران د چارواکو ترمنځ لاسلیک شو. چابهار یوه مهمه او ستره سیمه ییزه پروژه ده، چې په بشپړېدو سره به یې د افغانستان، ایران، مرکزي اسیا هېوادونو او هند ترمنځ اړیکې او همکارۍ پراختیا پیدا کړي . **دوام لري...**

# امریکا، طالبان او جگړه د افغانانو له نظره

اکسوس کتابپلورنځی




دا کتاب د هغو کته گوریو په اړه دی، چې خلکو رامنځ ته کړې او باور پرې لري. دومره قوي باور او عقیده چې ځینې وخت د کلمې واقعي مانا د ژوند او مرگ پر موضوع بدلېږي.

د کتاب لیکوال وايي، کله چې د سپټمبر د یوولسمې پېښه رامنځ ته شوه، زه په ښکتنې منهاټن کې وم او هغه ورځ ښکارېده چې نړۍ به خپل ځایونه په وحشیانه او ښو ځرگندو کته گوریو وویشي. له یوه لوري دلته یوه ډله کسان وو، چې وحشت یې کاوه. دوی ته یې ترهگر ویل چې انگېزه یې نه درک کېده او موږ یوازې کولای شو هماغسې چې ولسمشر جورج ډبلیو بوش ویل، دوی شریران وبولو. له بل لوري، په هغې ښې کته گورۍ کې چې موږ وو، د ازادۍ له ښه ژوند او روښانه راتلونکي څخه زیات څه مو نه غوښتل.

دا له ترهگرۍ سره د جگړې فرضیه او په ځانگړې ډول پر افغانستان د برید لپاره پرانیستې بهانه وه. نور تاسې یا له موږ سره یاست یا زموږ پر ضد یاست؛ هغه اصول چې د امریکا متحده ایالاتونو ته یې اجازه ورکړه چې د جگړې په لړې او یو نااشنا ډگر کې ځان ته له دښمنانو څخه ملگرې انتخاب کړي. دې تگلارې د یو څو کلونو لپاره کار ورکړ او هېواد په سوله کې و؛ سرکونه پاخه وو، ښوونځې پرانیستي وو او د دې هېواد په تاریخ کې لومړی ځل خلکو په بشپړو ډیموکراتیکو ټاکنو کې برخه واخیسته.

ډېر وخت نه و تېر شوی چې هرڅه بیرته خراب شول. په ۲۰۰۸ ز کال کې چې زه د یو خبریال په توگه افغانستان ته لاړم، وضعیت له وړاندې له کنټروله وتلی و. د امریکایانو پر ضد وسله والو نفوذ پیدا کړی و او د هېواد ډېرې سیمې د جگړې پر ډگر اوښتې وې.

بمبارونو، ځانمرگو بریدونو او د سړک غاړې ماین چاودنې زرگونه کسان وژلي وو. د ۴۳ هیوادونو د عسکرو ماموریت دا و چې دې هېواد ته ثبات راوړي، ملي اردو، د پولیسو ځواک او عدلي سیستم جوړ کړي. تر کلونو هڅو وروسته هم اردو کمزروې وه، پولیس لوټمار بلل کېدل او عدلي سیستم نږدې هېڅ نه و. د امریکا پربمانه پیسو او ځواکونو یوڅه ارامي رامنځ ته کړې وه، خو د پخوانیو کلونو راتوکېدلې هیلې مړاوې شوې وې.

څه پېښ شول؟ ما د خپلو پوښتنو لپاره د ځوابونو موندلو ته څلور کاله افغانستان ته سفرونه وکړل. د افغانستان ډېره برخه د بهرنیانو لپاره خوندي نه وه، زه مجبور وم چې ځان له وضعیت سره برابر کړم، ما ږبه زده کړه، ږیره مې پرېښوده او په سړک به لکه د عامو خلکو په څېر گرځېدم. د ترانسپورت لپاره مې له عادي موټرو او موټرسایکلونو استفاده کوله. دې هرڅه زما له وړاندې ټاکل شوی لیدلوری او کته گوری رابدله کړه. کله چې ما دغه څه له یو افغان خبریال سره شریک کړل، هغه په ځواب کې راته وویل: «دلته په ژوندیو کې ښه او په مړو کې بد سړی نشته.»

دا کتاب په ټوله کې د افغان جگړې لپاره د امریکا د ټاکل شوې کته گورۍ؛ زموږ متحدین، زموږ دښمنان او بې طرفه خلک، تحلیل او ارزونه ده چې د راپورتاژ په ژانر کې په افغانستان کې د نیویارک ټایمز خبریال انند گوپال لیکلی دی.

په ژوندیو کې ښه سړی نشته کتاب د ژورنالېزم په برخه کې د امریکا معتبرې جایزې (پولیټزر) ته هم کاندید و. دغه جایزه په نیویارک سیټي کې د کولمبیا پوهنتون لخوا هر کال چاپي خپرونو، ادبیاتو او د موسیقۍ په برخه کې غوره اثارو ته ورکول کېږي. په ژوندیو کې ښه سړی نشته، پښتو ژبې ته حزب الله اتل ژباړلی او بیت الحکمه خپرندویه ټولنې خپور کړی دی.

مینه وال کولای شي یاد کتاب پر اکسوس سربېره، د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو هم په مناسب قیمت تر لاسه کړي.

**روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه**

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | مثنوی معنوی | جلال الدین محمد بن محمدمولوی | ۸۵۰؋ |
| ۲ | هزارو یک شب | عبدالطیف تسوجی | ۱۰۰۰؋ |
| ۳ | رباعیات حکم عمر خیام | محمدرضا هنرور | ۷۰۰؋ |
| ٤ | صبح های جادویی مولتی میلیونرها | هال الرود دیوید اوسبرن/فریبا جعفری نمینی | ۲٦۰؋ |
| ۵ | قدرت ایمان | آنتونی رابینز، دیپاک چوپرا/مجید پزشکی | ۱۵۰؋ |
| ٦ | راهنمای مردان برای شناخت زنان | جان گاتمن/فاطمه باغستانی | ۲۰۰؋ |
| ۷ | مدیریت بر خویشتن | محمد نسیمی | ۱۸۰؋ |
| ۸ | فوق العاده باش | رابین شارما/فرهنگ جعفری فشارکی | ۱۷۰؋ |
| ۹ | بدون محدودیت بخورید وزن کم کنید و سالم شوید | ماشاءالله کشفی | ۲۳۰؋ |
| ۱۰ | صفر تا یک | پیتر تیئل، بیک مسترز/فرهنگ جعفری فشارکی | ۱۸۰؋ |
| ۱۱ | استثنا باشید | دارن هاردی/فریبا جعفری نمینی | ۲۰۰؋ |
| ۱۲ | چگونه نفوذ کنیم | جان سی مکسول ,و جیم درونان/مهدی قراچه داغی | ۲۳۰؋ |
| ۱۳ | حرف نزنید عمل کنید | برایان تریسی/گیتی شهیدی | ۱۳۰؋ |
| ۱٤ | عمر مفید | حمزه مظفری مظاهر | ۱۵۰؋ |
| ۱۵ | راه اثبات شده برای رسیدن به اوج در فروش بیمه۱۲۵ | مارک سیلورمن/حسام امامی | ۲۲۰؋ |
| ۱٦ | تعیین هدف | سوزان بی ویلسون، مایکل اس دابسون/ اکبرعباسی، میثم ظفرخواه | ۱۵۰؋ |
| ۱۷ | برادر ثروتمند خواهر ثروتمند | رابرت کیوساکی امی کیوساکی/ثریا شریفی | ۲۵۰؋ |
| ۱۸ | اعتمادهوشمندانه | استفان کاوی/امیهن خالصی | ۲۵۰؋ |
| ۱۹ | چگونه بالاتر از دیگران پرواز کنید | محمد رضا بیات سرمدی | ۱٦۰؋ |
| ۲۰ | راز قدرت کائنات | جنی لاولس/علی شهریار | ۲۰۰؋ |
| ۲۱ | قانون جذب ابراهام | استرو جری هیکس/مهین خالصی | ۲۳۰؋ |
| ۲۲ | همه چیز به فنا رفته! | مارک منسون/الهام شریف | ۲۵۰؋ |
| ۲۳ | همه چیز به نفع تو پیش می رود | جوئل اوستین/افسانه مقدم | ۲۵۰؋ |
| ۲٤ | قهرمان فروش باش! | آمنه الماسی | ۱۵۰؋ |
| ۲۵ | بازار شش میلیارد نفری | پورتر اریسمن/علی علی پناهی | ۱۸۰؋ |
| ۲٦ | استرس کمتر موفقیت بیشتر | کلیر هریس/علی اکبر قاری نیت | ۱۸۰؋ |
| ۲۷ | استادی | رابرت گرین/فاطمه باغستانی | ۳۵۰؋ |
| ۲۸ | ۳۳استراتژی جنگ | رابرت گرین/فاطمه باغستانی | ۵۰۰؋ |
| ۲۹ | حقوق مالی | عبدالطیف رحمانی | ۲۵۰؋ |
| ۳۰ | امریکا، طالبان او جگړه د افغانانو له نظره | انند گوپال/ حزب الله اتل | ٤۸۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړیکه: 0202504652 - 0798-98-9696

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۶,۹۰ |
| € | ۹۰,۲۰ |
| Rp. | ٤٦۰ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۰,٦۰ |
| £ | ۹۸ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زیږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# له نورو سره مو پر اړیکو غور وکړئ

ژباړه: امان الله «حنیفي»

په ۱۹۸۷ ز کال ځلوېښت کلن شوم، دا وخت مې احساس کاوه چې د ژوند نیمه لار مې وهلې ده، هغه وو چې تصمیم مې ونیو څو مې خپل تر سره شوي کارونه یو ځل و ارزوم. باید په دې اقرار وکړم هغه څه چې مې تر سره کړي وو، پرې خوښ نه وم. که څه هم چې د ژوند کولو پلان مې پر لومړیتوب ولاړ و، سخت کار مې کاوه او ټول تمرکز مې د مطلوبو پایلو پر لاسته راوړلو و؛ ولې له دې ټولو سره سره بیا هم هسې چې ما یې ارزو درلوده، نه وم توانېدلی. د دې ارزیابۍ نتیجه مې څه وه؟ تر حد زیات په خپل ځان او قوي نقطو متمرکز شوی وم او په کافي اندازه مې له نورو سره یو ځای کار کولو او اړیکو ساتلو ته وخت نه و ورکړی.

د هغې تجربې په مرسته پوه شوم چې یوازې د خپلو وړتیاوو تر لاسه کول او د هغه تر سره کول چې توان یې لرم، یوازې په ما پورې نه مربوطېږي؛ بلکې کاملاً له نورو سره په اړیکو لرلو پورې اړه لري. دا چې څنګه کولای شو له یو بل سره کار وکړو او څنګه له خدای راکړو وړتیاوو مو هر یو استفاده وکړو؛ لس کاله وروسته همدا تجربه راته د دې الهام شوه چې (د رهبرۍ ۲۱ ځانګړنې) په نوم کتاب د دې موضوع په محوریت سره (هغه څه چې د یوه رهبر وړتیا ټاکي، د هغه شاوخوا کسان دي) ولیکم. په دې ۳۰ وروستیو کلونو کې مې له کلیدي کسانو سره د اړیکو پاللو ته تر ټولو لومړی ځای ورکړی دی او دې کار مې توجه له «ما» «موږ» ته اړولې ده. خو پایله بیا څه ده؟ تر ټولو اوږدمهاله، پایداره او مثبت اغېز لرونکو اړیکو ته چې ژوند ته مې یې نوی رنګ ورکړی دی، رسېدلی یم.

**څنګه د ډېرو خلکو لرلو وړتیا ته ارتقا ورکړو؟**

په ۲۰۰۴ ز کال کې مې په دې اړه یو کتاب ولیک چې خلک په ژوند کې د نورو د بریاوو او ماتې اصلي لامل کېدای شي. خلک موږ، زموږ د اړیکو له مخې پېژني. ممکن تر اوسه ستاسې اړیکې هغسې چې تاسې غوښتې، نه وي جوړې شوې؛ خو دا جدي ستونزه نه ده. ځکه کولای شی دا زده کړی چې څنګه له نورو سره اړیکې وپالی، څو په همدې برخه کې ځان په یو پیاوړي کس بدل کړی. په دې اړه دا درې قدمونه له تاسې سره پوره مرسته کولای شي، څو ښې او مثبتې اړیکې ولری.

**۱ـ هره ورځ خلکو ته زیات ارزښت ورکړئ**

زه نورو ته له ارزښت ورکولو سره تر هرڅه زیاته مینه لرم؛ ځکه ما ته خلک ارزښت لري. نورو ته په ارزښت د قایلېدو مینه مې پلار په زړه کې کرلې ده، هغه راته ښودلې چې نورو ته باید ارزښت ولرم. کله چې له پوهنتون فارغ شوم، له هغه مې وغوښتل چې د کسب وکار نړۍ ته د ننوتو لپاره راته خپل نصیحت ووایي. هغه وویل: «هره ورځ د خاصې توجې پر اساس نورو ته ارزښت ورکړه. پر هغوی باور وکړه او پرته له کوم قید او شرط له هغوی سره مینه وکړه!» همدا لارښوونې ۵۰ کاله زما د لارې څراغ وې.

تاسې تر هغې چې نورو ته په ارزښت قایل نه شی، نه شی کولای د هغوی وړتیاوې لوړې کړی. او دا چې له خلکو سره مینه ونه لری، هغوی ته احترام ونه لری او پر هغوی باور ونه کړی چې هغوی ارزښت لرونکي دي، نه شی کولای چې بریالي شی. نه شي کولای چې هم نورو ته د حقارت په سترګه وګوری او هم د هغوی د پرمختګ لامل شی. خو د دې هرڅه خلاف بیا له نورو سره اړیکې ساتل بریا یقیني کوي.

**۲- ځان د اړیکو په ساتلو کې ارزښت لرونکی وساتئ**

د یوې اړیکې د جوړولو تر ټولو چټکه لاره کومه ده؟ ځان مو بهتر کړی څو نورو ته د رسولو لپاره ډېره ښه څیزونه ولری. د دې مسئلې لپاره باید ډېر ښه ذهنیت ولری. کلونه مخکې دې مسئلې هغه وخت زما په فکر کې ځای ونیو، چې د زیګ زیګلار دا خبرې مې واورېدې: «که له خلکو سره د هغه څه په لاسته راوړلو کې مرسته وکړی چې دوی یې غواړي، هغوی به هم له تاسې سره د هغه څه په لاسته راوړلو کې مرسته وکړي چې تاسې ورته رسېدل غواړی.»

د خپل ځان د ارتقا او پرمختګ لپاره هڅه وکړئ او هدف مو دا اوسئ چې نورو ته مو هم ګټه ورسېږي. زه دا ډاډ درکوم کله چې خپله فزیکي او معنوي شتمني له نورو سره شریکوی، هغومره مو د پیاوړي کېدو انګېزه پیاوړې کېږي او هماغومره له نورو سره د اړیکو پاللو، لاسته راوړنو او افکار شریکولو مینه مو په زړه کې زیاتېږي.

د دې ذهنیت په لرلو سربېره، زه هره ورځ نورو ته د ارزښت ورکولو په وړتیا کار کوم او په دې اړه له ځانه ډېرې پوښتنې کوم څو نور هم په دې اړه زیات وپوهوم، چې څنګه کولای شي نورو ته ارزښت ورکړي. د دې لپاره چې نورو ته دا وښیی چې تاسې ورته ارزښت لری، تر دې بله هېڅ ښه لار نشته چې په دې اړه د هغوی نظرونه هم واوری. زه هر وخت دا کار کوم، ځکه زما لپاره دا مهمه ده چې خلک څنګه فکر کوي او په دې پوهېدل چې هغوی ته څه ارزښت لري، دا له ما سره مرسته کوي څو ډېر د هغوی په درد وخورم.

د بېلګې په ډول، زه هر وخت مخکې له دې چې له یو چا سره مخه ښه وکړم، له هغوی پوښتم چې له تاسې سره د مرستې په پار څه ویلی او کولای شم، څو نور هم خپل سازمان ته په ارزښت قایل شم. له نورو سره اړیکې پالل په اصل کې هم د ځان او هم د نورو د ارزښت زیاتول دي. هرڅومره چې نور ښه وپېژنی او هرڅومره چې خپله پرمختګ وکړی، هغومره زیات کولای شی د نورو په ژوند کې بدلون راولی.

**۳- د هغوی نړۍ ته ننوځئ**

څو کلونه مخکې مې یوې وینا ته د سفر پر مهال د لوی ښوونکي «لئو بوسکالیا» په دې جمله سترګې ولګېدې: «موږ ډېری وخت د یوې اړیکې ټینګولو فرصت له نږدې لیدو، یوې خوږې موسکا، یوې ښې خبرې، یوې صادقانه پېژندنې او له یو بل سره د ساده جوړپخیر نه کولو له امله له لاسه ورکوو. په داسې حال کې چې دا ټولې د هغه وړتیا درلودونکې دي چې کولای شي د یو چا ژوند کاملاً بدل کړي.» زه هغه ورځ یوې لویې جلسې ته لاړم او تر ټولو ښه وینا مې درلوده. هغه ورځ مې د ځان په اړه تر ټولو ښه احساس درلود. خو لږ وروسته مې د بوسکلیا خبره یاد ته راغله او په دې پوه شوم چې زه یوازې او یوازې د ځان په غم کې یم. داسې چې زما دا فکر کاملاً ناسم و.

ما هماغه ورځ په هغه جلسه کې له خلکو وغوښتل چې هغوی راشي او زما نړۍ ته ننوځي، خو لږ وروسته بیا پوه شوم چې نه، زه باید ورشم او د هغوی نړۍ ته داخل شم. هماغه ورځ مې له ځان سره پرېکړه وکړه چې نور به له خلکو سره یوځای د ډېرو مسایلو په اړه خبرې کوم.

هماغه ورځ له غرمې وروسته مې چې کله له ځان سره د ورځې په اړه ارزونه کوله، په دې اړه مې فکر کاوه چې له هغوی سره د تېر شوي وخت کومه برخه مې ډېره ښه وه او له هغه مې څه درس اخیستی؟ رښتیا، تر ټولو یې هغه برخه ډېره خوندوره وه چې کله مې له ځان سره دا پرېکړه کړې وه چې نور به د ډېرو مسایلو په اړه له دوی سره خبرې کوم او دا خبره مې دوی ته هم په ډاګه کړې وه. له هماغه ورځې مې د ونیاوالۍ په جلسو کې ډېرو کسانو ته په کتابونو د لاسلیک عادت هم اخیستی، څو په دې لاسلیک سره له هغوی سره خپله اړیکه وساتم. همدلته د لئو بوسکالیا د خبرې په ارزښت پوه شوم چې ویل یې: «موږ ډېر وخت له یو چا سره د اړیکې جوړېدو فرصت هغه وخت له لاسه ورکوو یا یې نادیده ګڼو، کله چې له هغوی سره ډېر نږدې په کوم سفر، مېلمستیا او یا هم ټولګې کې ملګري وو.»

همدا دلیل دی چې اوس د هرې وینا پر مهال له وینا مخکې د هغې جلسې له ډېرو ګډونوالو سره له نږدې ګورم. زه ډېرو رهبرانو ته وایم چې په لوړو یا له خلکو په لرې او ګوښه ځایو کې له کېناستو ډډه وکړي او پر ځای یې له خلکو سره یو ځای د هغوی په منځ کې کېني، له هغوی سره له نږدې خبرې وکړي او داسې تصور هغوی ته ورکړي چې هغه یې ډېر نږدې ملګری دی. دا مهمه نه ده چې حتماً د له هغوی سره خبرې وکړی، ځینې وخت یوازې د هغوی منځ کې کېناستل هم د هغوی لپاره کفایت کوي. د بېلګې په ډول، کله مو چې د یو نږدې ملګري د کورنۍ کوم غړی وفات شوی وي، یوازې همدا کافي ده چې لاړ شی او د هغه له خوا سره بدون له څه ویلو کېنی، څو هغوی ستاسې په شتون کې د ډاډ احساس وکړي.

## د ملکیانو د خوندیتوب ډله: د سولې د روانو خبرو د بریالیتوب لپاره دې اوربند وشي

د ملکي وګړو د خوندیتوب کاري ډله وایي، د جګړو دوام به د سولې پیل شوې خبرې له ګواښ سره مخ کړي، نو د دې لپاره چې یادې خبرې بریالۍ شي، باید اوربند ته لار پرانیستل شي. یادې ډلې په ننګرهار کې د یوې ناستې پر مهال ویلې چې په قطر کې د افغان حکومت او وسله والو طالبانو ترمنځ د پیل شوو بین الافغاني خبرو اترو هرکلی کوی او دا یې د افغان وژنې، په ځانګړې توګه د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې بندېدو لپاره ګټور ګام بللی دی.

په ننګرهار کې د ملکي وګړو د خوندیتوب کاري ډلې غړي برهان الدین سیرت ویلي چې د جګړو دوام د سولې پیل شوې خبرې له ګواښ سره مخ کولی شي، نو مهمه ده چې د افغان حکومت او طالبانو استازي له نورو خبرو لومړی د اوربند پر مسئله بحثونه وکړي او اوربند رامنځته کړي. هغه زیاته کړه، د جګړې د یوې ورځې دوام د سلګونه انسانانو د ژوند په قیمت تمامېدلی شي، نو په کار ده چې ښکېلې غاړې د دایمي سولې د راتګ لپاره پر دایمي اوربند هم سره سلا شي. د ملکي وګړو خوندیتوب کاري ډلې غړې ډاکتر وریښمینې ستانکزۍ هم پر اوربند ټینګار درلود او زیاته یې کړه چې په یوه وخت کې د سولې خبرې او د جګړو دوام هېڅکله پایله نه ورکوي، نو باید اوربند رامنځته شي. هغې د اوربند ترڅنګ د ټولنیز عدالت پر پلي کېدو او دغه راز د سولې په راتګ کې د ښځو د حقونو نه تر پښو لاندې کېدو باندې هم ټینګار وکړ. دې زیاته کړې: «ما خپله د افغان حکومت د پلاوي غړو سره خبرې کړې او ورته مې ویلي چې موږ ښځې داسې سوله نه غواړو چې زموږ حقونه تر پښو لاندې شي او بیا د طالبانو شل کاله پخوانی رژیم رامنځته شي، هغوی ته هم دا سره کرښه ده چې د ښځو حقونه به په خپل ځای پاتې کېږي.» د یادونې ده چې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د سولې بین الافغاني خبرې روانه اونۍ د قطر په پلازمېنه دوحه کې پیل شوې او هیلې څرګندېږي چې همدا خبرې اترې به د حکومت او طالبانو ترمنځ د روانې جګړې پای ته زمینه برابره کړي.

## ناټو: د سولې له خبرو سره جوخت د طالبانو له خوا روان تاوتریخوالی د منلو نه دی

په افغانستان کې د ناټو ملکي سفیر ویلي چې د طالبانو له خوا تاوتریخوالی نور د منلو نه دی. د ناټو ملکي سفیر سټیفانو پونټیکورو دغه څرګندونې د ولسمشر له لومړي مرستیال امرالله صالح سره د لیدنې پر مهال کړې دي.

نوموړي پر خپل ټویټر لیکلي چې په دې لیدنه کې یې د افغانستان د سولې پر پروسې او وروستیو سیاسي او امنیتي حالاتو خبرې وکړې. د ناټو ملکي استازي ویلي چې د طالبانو له خوا وروستی مخ پر زیاتېدونکی تاوتریخوالی نور ورته د منلو وړ نه دی. هغه له طالبانو غوښتي چې تاوتریخوالی کم کړي او د سولې لپاره خپله ژمنتیا وښیي، څو د افغانستان اوږدې شخړې ته د سیاسي لارې د هوارې لاره برابره شي. د سټیفانو په خبره: «په دې لیدنه کې مې ټینګار وکړ چې د سولې بین الافغاني مذاکراتو کې باید د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت پلاوی متحد وي؛ ځکه چې له بې اتفاقۍ طالبان ګټه پورته کوي.» د هغه په وینا، اوس د دې وخت را رسېدلی چې د ټولو لپاره د سولې هڅې وشي او د تېرو ۱۹ کلونو لاسته راوړنې وساتل شي. دا په داسې حال کې ده چې د قطر په پلازمېنه دوحه کې بین الافغاني خبرې روانه اونۍ پیل شوې، خو ورسره سم د جګړې ډګر هم د پخوا په پرتله ګرم شوی دی. طالبانو د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې په جګړو او بریدونو کې زیاتوالی راوستی او ترڅنګ یې د ځینو ولایتونو او ولسوالیو ترمنځ لویې لارې هم تړلې دي.

په ورته وخت کې رویټرز خبري اژانس هم وړمه ورځ د ځینو سرچینو په حواله ویلي وو چې طالبان د سولې له خبرو سره هممهاله هڅه کوي چې ځینې مهم او کلیدي ښارونه او تر خپل کنټرول لاندې کړي، خو طالبانو بیا دغه ډول راپورونه رد کړي او وایي چې دوی له امریکا سره د شوې هوکړې له مخې د هېڅ ولایت او یا ښار د نیولو هڅه نه کوي.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
ایډیټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د وږي ۲٦مه | د ۲۰۲۰ د سپتمبر ۱٦مه | ۵۹۵مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۱ | ۳۳ | ۳۵ | ۳۱ | ۳۷ | ۳۱ |
| ۱۵ | ۱٦ | ۱۸ | ۱۷ | ۲۳ | ۲۰ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۱۳ | لمر ختل ۰۵:۳٦ | ماسپښين ۱۱:٤۹ | مازيګر ۰۳:۲۰ | ماښام ۰٦:۰۱ | ماخوستن ۰۷:۲۵

## نړۍ




## گروسي: سعودي عربستان هڅه کوي چې خپل اټومي پروګرام نور هم پراخ کړي




د اټومي انرژۍ د نړیوال اژانس مشر رافایل گروسي وايي چې سعودي عربستان غواړي چې د سوله ییزو موخو لپاره خپل اټومي ځواک پراخ کړي. ګروسي د سعودي عربستان لخوا چې د ایران سیمه‌ییز سیال هېواد دی، د دغه ځواک پراختیا د اندېښنې وړ نه بولي، خو وايي چې د دغه هېواد پر اټومي فعالیت به څار زیات کړي.

هغه وايي: «سعودي عربستان د سوله‌ییزو موخو لپاره د اټومي فعالیت پراختیا ته لېوال دی. روښانه ده چې کله دوی خپل فعالیت زیات کړي او هستوي توکي عربستان ته یوسي، باید یو حفاظتي ځواکمن نظام باید ولرو. هېڅ څه د دغه کار مخه نشي نیولی.»


په ورته وخت کې سعودي عربستان هم وايي چې د دغه هېواد ولیعهد، محمد بن سلمان د پراختیايي طرحو له مخې، یاد هېواد پر ټېلو خپله تکیه راکموي.

ګروسي دغه راز زیاته کړې چې ایران هم اجازه ورکړې چې د اټومي انرژۍ نړیوال اژانس څېړونکي د دغه هېواد له هستوي مرکزونو لیدنه وکړي. نوموړي ویلي چې څارونکو یې تېره میاشت له ایرانه اجازه ترلاسه کړه ترڅو له هغو دوو مرکزونو لیدنه وکړي چې په پټه پکې یورانیم غني کېدل. د هغه په خبره، دوی هیله من دي چې ایران به په دې برخه کې ورسره خپلې همکارۍ نورې هم زیاتې کړي، ترڅو دغه کړکېچ ته سوله ییز حل ومومي.

## تیخانوفسکایا: د بېلاروس د مشر لوکاشینکا اوسني اقدامات به حل لارې نورې هم ستونزمنې کړي

د بېلاروس د حکومت مخالفه مشره سویتلانا تیخانوفسکایا وايي چې د ولسمشر الکساندر لوکاشینکا اوسني اقدامات په دغه هېواد کې حل لارې نورې هم ستونزمنوي. نوموړې له کرنټ ټایم تلوېزیون سره په خبرو کې ویلي چې لوکاشینکا د بېلاروس ناقانونه مشر دی او حق نه‌لري چې د خلکو په استازیتوب پرېکړې وکړي. دا په داسې حال کې ده چې ورمه ورځ د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوتین د بېلاروس له ولسمشر الکساندر لوکاشینکا سره په سوچي ښار کې ولیدل او له هغه سره‌یې د یو نیم میلیارد ډالري پور ژمنه وکړه، خو تیخانوفسکایا له بېلاروس سره د روسیې پر نړدېوالي سختې نیوکې کړې دي. هغې زیاته کړې: «تر هر څه مخکې، د افسوس ځای دی چې د روسیې چارواکي له یوه دیکتاتور سره یو لاس دي او د بېلاروس د خلکو ملاتړ یې نه‌دی کړی.» د یادونې ده چې د بېلاروس تر لانجمنو ټاکنو وروسته الکساندر لوکاشینکا ګټونکی اعلان شو. سویتلانا تیخانوفسکایا له خپله هېواده ووتله او په خپله خوښه تبعید کې په لېتوانیا کې شپې ورځې تېروي. د راپورونو له مخې، لوکاشینکا په خپله ۲٦ کلنه کاري دوره کې له تر ټولو لویې ننګونې سره مخ دی. دی وايي چې ټاکنې یې ګټلې او له قدرته نه‌لرې کېږي.

## آگاهان اقتصادی: موفقیت مذاکرات صلح می‌تواند اقتصاد را متحول سازد



هم‌زمان با آغاز گفت‌وگوهای میان افغانان در قطر، آگاهان اقتصادی و نماینده‌گان بخش خصوصی با استقبال از این روند، می‌گویند که موفقیت این گفت‌وگوها برای گُسترش فعالیت‌های بخش خصوصی در کشور، از اهمیت خاصی برخوردار است و می‌تواند اقتصاد افغانستان را، متحول سازد.

معاون فدراسیون اتاق‌های افغانستان می‌گوید که حکومت وطالبان باید نقش بخش خصوصی را درگفت‌وگوهای صلح، نادیده نگیرند.

ازسویی هم، شماری از آگاهان اقتصاد با درنظرداشت ناامنی‌های موجود در کشور می‌گویند که اگر صلح در کشور تأمین شود، این رویداد افغانستان را به خودبسنده‌گی دربخش نیازهای مالی‌اش نزدیک خواهند ساخت.

آگاهان اقتصادی می‌گویند که پیشرفت موفقانه مذاکرات میان افغانان، زمینه‌ها را برای سرمایه گذاری‌های بیشتر داخلی وخارجی درکشور فراهم خواهند ساخت.

آنان می‌گویند که یکی ازعلت‌های بزرگ فرار سرمایه‌ها ازکشور و کند شدن فعالیت‌های بخش بازرگانی و تولیدی درکشور نبود امنیت است و با حل این مشکل، روند سرمایه‌گذاری‌ها از سرگرفته خواهند شد. سخی احمد پیمان، معاون فدراسیون اتاق‌های افغانستان در این باره گفت: «مشکلات ما امنیت است و اگر صلح شود، ما حاضر هسیتم که سرمایه‌گذاری‌های مان را افزایش دهیم.»

خانجان الکوزی، معاون فدراسیون اتاق‌های افغانستان نیز در این باره گفت که نقش سکتور خصوصی در گفتگوهای صلح مهم است و «باید برای حل مشکلات ما کار شود.»


## ژوند

## سپما کول خپل مسوولیت وګڼئ!



د دې لپاره چې پوه شی څه ډول سپما وکړی، په هماغه لومړي سر کې خپل ټول عواید مه لګوئ. هره میاشت د خپلې تنخوا یوه برخه مخکې له دې چې له لاسه مو ووځي، سپما کړئ. که څو ځله دغه کار تر سره کړی، عادت او مسوولیت مو ګرځي. کولی شی پاتې پیسې د خپل ورځني ژوند د پر مخ بېولو لپاره د مهالوېش له مخې مصرف کړی. د دې کار لپاره د خپلې اداري له مالي برخې او یا هم له اړوند بانک سره خبرې وکړئ، چې په اتومات ډول ستاسو په خوښه یوه اندازه پیسې ستاسو د سپما یا تقاعد حساب ته ولېږدوي. که مو کارو بار ازاد وي او یا هم میاشتني حقوق په نغدي ډول تر لاسه کوی، بیا نو ځان داسې اموخته کړئ چې له هر څه وړاندې ټاکلې اندازه پیسې خپل د سپما اکونټ ته ور اضافه کړئ. په دې کار ځان عادت کړئ او مسوولیت یې وګڼئ.

## هواوې خپل شخصي عامل سیستم وړاندې کوي




هواوې کمپنۍ چې د امریکا د بندیزونو له امله له جدي ستونزو سره مخ ده، اوس له نوي ځیرک موبایل سره خپل شخصي عامل سیستم چې هارموني او اېس (HarmonyOS) نومول شوی دی، وړاندې کوي. د یادونې ده چې د امریکایي بندیزونو له امله د هواوې کمپنۍ نوي ځیرک موبایلونه د انډرایډ او ګوګل مشهورو کاریالونو د کارولو اجازه نه لري، چې له همدې امله دغې کمپنۍ د ۲۰۱۹ کال په اګسټ کې خپل شخصي عامل سیستم معرفي کړ. اوس افشا شویو معلوماتو کې ادعا شوې چې هواوې کمپنۍ د ډوېلپرز کنفرانس له لارې خپل هارموني او اېس نوې بڼه معرفي کوي. د یادونې ده چې د ۲۰۱۹ کال په مې میاشت کې امریکا هواوې کمپنۍ تور لېست کې شامل کړه او له دې کمپنۍ سره پر هر ډول راکړه ورکړه باندې یې بندیز ولګاوه. له دغه بندیز څخه وروسته امریکا هواوې کمپنۍ ته لنډمهاله جواز ورکړ او څو ځلې یې د دغه جواز موده وغځوله. اوس دغه موده د اګست په ۱۳مه پای ته رسېدلې او له هغې وروسته امریکا په دې اړه کومه پرېکړه نه ده کړې.

د خپلو هیلو پوره کولو لپاره نغدو پیسو ته اړتیا لرئ !!!!!!!
د معاشاتو پور له په زړه پورو او آسانو شرایطو سره ترلاسه کړئ
• د پور آسانتیا په افغانیو او امریکایي ډالرو کې شتون لري
• لنډمهاله پور د 12 میاشتو سره
• آسان سند جوړونه
• د دولتي، غیر دولتي او خصوصي سکتور کارکوونکي کولی شي دغه پور ته لاسرسی ولري
دلازیاتو معلوماتو لپاره ز مونږ نږدې څانګې یا هم په مرکزي دفتر کې د پورونو څانګې څخه لیدنه وکړئ او یاهم ز مونږ 24 ساعته شمېرې 1515 سره اړیکه ټینګه کړئ
عزیزی بانک
Azizi Bank
www.azizibank.af
1515

